# د حمزه بابا سفرنامهٔ کابل

**A view on the Travelogue of Hamza Shinwai**

ډاکټر حنیف خلیل

This paper throughs light on the historical travelogue of the reckoned poet and acholar of 20th century Pashto literature, Hamza Shinwarai, who has narrated the travelogue in a particular poetic form. This poetic travelogue was written by him during his travel during 1948 to Kabul while invited by the then Aghan government. This travelogue describes the live conversation carried amongst the various scholars on the Pashto language and its textual pre-requisites. This trtavelogue was banned or was hidden due to various reasons. Hanif Khalil writer of this paper is going to evaluate this historical travelogue on the principals and standards of travelogue writings.As a milestone in the travelogue writing, this paper unpacks some interesting revalations about the travelogue of Hamza Shinwari and over all construction of the genere of travelogue in Pashto Literature.

د افغانستان د خپلواکۍ د جشن په موقع د افغانستان حکومت د پېښور ادیبان او شاعران هم په دغه جشن کښې د شرکت دپاره بللي وو چې د پښتو په رسم الخط هم خبرې اترې وکړي. حمزه بابا د دغه سفر ټول حال په منظوم شکل کښې لیکلے دے. په دغه منظومه سفرنامه د بحث نه مخکښې د دغه سفر او د افغانستان د پښتو ټولنې له خوا د دعوت پېش منظر به د مرحوم قیام الدین خادم له قلمه واضح کړو.

"د مرحوم سپه سالار شاه محمود خان د صدارت په وخت کښې بېنوا او زهٔ پېښور ته د ښاغلي عبدالشکور د پېښور د میوزیم د مدیر په بلنه چې هلته کومه مشاعره هم وه، ولاړو. د پېښور ډېر علماء، فضلاء، په دغو ټولنو کښې حاضر وو. په پېښور کښې مونږ ته ډېر ملي او رسمي دعوتونه راکړے شول. د مراسمو د ختم په وخت کښې مونږ لس پنځلس کسانو ته افغانستان ته د راتګ

بلنه ورکړه. دا پېش نهاد مو د غازي شاه محمود په امضاء ورساوۀ. په نتیجه کښې بلل شوي کسان کابل ته د پښتو ټولنې د دعوت په اثر راغلل. چې مولانا عبدالقادر، خان میر هلالي، (محمد نواز خټك) سید رسول رسا، ملك سیدال خان شینوارے، عبدالخالق خلیق، (سید انوارالحق) او زمونږ شاعر حمزه صاحب هم پکښې وُ". (1)

دا د کال **1948**ء د اګست دوه ویشتمه نېټه وه چې حمزه بابا ورته په خپله دغه منظومه سفرنامه کښې اشاره کړې ده:

لاړم د اګست په دوه ویشتم افغانستان و ته
سن اتۀ څلویښت وُ د کامل ښکلي بوستان و ته

شمع د هستۍ مې یووړه نوي شیشان و ته
جوړ نوے ماحول کړم د قیصې نوي عنوان و ته

ما له خپلواکۍ له جشنه څۀ تاثرات اوموندل
ګویا چې ما نور د حریت برکات اوموندل (2)

"دا سفرنامه په نهه سوه بیتونو مشتمله ده. شعري قالب یې ترکیب بند دے. په شپږ نوي (96) صفحو مشتمل د کتاب په شکل کښې په کال **1949**ء کښې په پېښور کښې چاپ شوه. ولې د حکومت له خوا پرې بندیز ولګولے شو او صرف یو څو کاپۍ لوستونکو ته په لاس ورغلې". (3)

وروستو بیا دغه سفرنامه د مردان په رهبر نومي مجله کښې خورېدل شروع شو، ولې بیا هم پوره چاپ نۀ شوه او د څو ټوکه چاپ کولو پس نوره پاتې شوه د رهبر ادارې د ورومبي ټوك سره په نوټ کښې ولیکل:

"دا منظومه سفرنامه امیر حمزه خان شینواري په کال **1948**ء کښې چې هغوئ سره زمونږ د نورو ادیبانو او شاعرانو د افغانستان جشن ته هم په دغه کال غوښتے شوے وُ. لیکلې ده. په دغه اوږده منظومه سفرنامه کښې کۀ یو طرفته ښاغلي امیر حمزه شینواري خپل ټول سفر را وستے دے. نو بل طرفته یې په نظم کښې هم د تغزل لمنه ټینګه نیولې ده. کوم وخت چې لوستونکے یو بند ولولي نو یو طرفته د هغوئ شاعرانه خوبي لوستونکي ته پښتې اړمې کړي چې دا بند واپس ولوله او بل طرف ته د اخري مصرعې ختمېدو سره د بل بند ورومبۍ

مصرعه لوستونکے داسې ځان ته را کاږي چې هغه هلته په ځان پوهـ نهٔ شي او بیا یې په بل بند شروع کړې وي. مونږ د ښاغلي امیر حمزه شینواري ډېره ډېره مننه کوو چې د رهبر لوستونکو ته یې دا دومره لویه بخښنه وکړه". (4)

په رهبر کښې د دغې سفرنامې د نهو نه زیات ټوکه چاپ شوي خو ما ته د واجب الاحترام همېش خلیل صاحب نه وړومبے، دوېم، پینځم، شپږم، اووم، اتم او نهم ټوك په لاس راغلي دي چې زهٔ یې بې حده مننه کوم او خپل بحث به د هم دغو په لاس راغلو موادو په تکیه کوم.

له دې نه مخکښې چې په سفرنامه خپل بحث شوروع کړم د دې خبرې وضاحت ضروري ګڼم چې ما دغه سفرنامې ته د "سفرنامهٔ کابل" نوم ځکه ورکړو چې دغه نوم مرحوم حمزه بابا په خپله خوښ کړے ؤ. چې د محمد نواز ختك د دې بیان نه یې وضاحت کیږي.

"**1948**ء کښې د پښتو ټولنې کابل په بلنه حمزه صاحب، خلیق صاحب، رسا صاحب، ډاکټر انوار الحق صاحب، مولانا عبد القادر مرحوم. د دغې سفر روئیداد ستر حمزه صاحب "سفرنامهٔ کابل" تر عنوان لاندې په نظم کښې په خوندور ډول ترتیب کړے دے چې د یو تاریخي دستاوېز حیثیت لري". (5)

د سفرنامې په شروع کښې مرحوم حمزه بابا د سفر او ژوند په حقله خبرې کړې دي او د فلسفیانه نظر نه یې ژوند ته کتلي دي او ژوند یې هم یو سفر ګڼلے دے. او دغسې یې له دغه فلسفیانه نظرئې سره په دې بند د سفرنامې شروع کړې ده.

ورځو شپو ته وګوره بیګاه سفر سبا سفر
هر نظر او هر قدم او تلهٔ راتلهٔ د سا سفر

ما وے محسوس کړے د هستۍ په ابتدا سفر
لاره راته نوې کړي نما په انتها سفر

ځمه زهٔ روان یم د هستۍ د ارتقا سره
خپل حقیقتونه بدرګه کاندي زما سره (6)

د یو سفر نامه لیکونکي دپاره په کار دے چې هغه په هر حال حقیقت پسند وي او د سفر پېښې ډېر په صداقت سره انځور کړي. دې نه علاوه د هغهٔ مشاهده

او نظر تېز په کار دے. چې د حالاتو په ښهٔ او صحي توګه عکاسي اوکړي، د ژبې او بيان انداز يې شګفته وي چې لوستونکي يې په اسانه په مقصد پوهـ شي. د سفرنامه ليکونکي مثال د يو داسې انځورګر يا عکاس وي چې هغه نهٔ صرف د مرئي څيزونو عکس پېش کړي بلکې د غيرمرئي او مجرد څيزونو عکس هم د لفظونو په ذريعه پېش کړے شي. دغه واړه خصوصيات د حمزه بابا په دغه سفرنامه کښې موجود دي. خصوصاً منظر کشي يې په داسې انداز کړې ده چې لوستونکے د ګوتې نه اونيسي او په مختلفو باغونو، چمنونو او منظرونو يې ګرځوي. لوستونکے په هرڅهٔ داسې ګمان کوي چې ګنې هرڅهٔ په خپلهويني او د يو ښهٔ سفرنامه ليکونکي دا امتيازي خصوصيت په کار دے چې لوستونکو ته داسې احساس ورکړي چې ګويا هر يو لوستونکے په دغه سفر کښې شامل ؤ. د افغانستان يوې ښکلې درې پغمان د ښکلا انځور له مخه يې د منظر کشۍ اندازه وکړئ.

څهٔ ښکلې تږته وه د جنت چې په درو کښې وه
يا هغه جلوه چې د حورانو په ککو کښې وه

يا هغه خنده چې د غلمان په لبو سرو کښې وه
يا هغه حيا چې د ښايست په اننګو کښې وه

روح په مسکېدو وه د حسن بن صباح پکښې
غر او که احساس چې ولې مئي نه دي مباح پکښې

د خپل سفر د ملګرو نه علاوه حمزه بابا په دغه سفرنامه کښې د ځينو هغو شخصيتونو ذکر هم کړے دے چې په سفر کښې يې ورسره واسطه پاتې شوې ده. او بيا د ځينو شخصيتونو د خصوصي کيفيتونو څرګندونه يې هم کړې ده، چې د ائينده نسلونو دپاره د دغو شخصيتونو د کردار او عاداتو څرګندونه ترې کېدے شي. لکه د مثال په توګه د مرحوم سمندرخان سمندر په حقله وايي چې:

"هغه په لارۍ کښې سفر نه شو کولے، او له دغې وجې نه هغه مونږ سره په دغه سفر کښې شريك هم نهٔ شو. له بده مرغه خپل موټر هم ورته حاصل نه ؤ. ځکه خو د هغهٔ په حقله بابا وليکل:

حیف چې د لارې له ډانه پاتې سمندر شولو
بس خو لوئ علت یې یو فقدان ؤ د موټر شولو

د ډاکټر انوارالحق د شرارت، ټوقو، ټقالو ذکر یې ډېر کړے دے، ګویا د سفر ښکلا یې په ډاکټر صاحب جوړه وه، ځکه خو یې لیکلي دي چې:

زۀ وم په کمره کښې مېشته شوے د انور سره
ګویا چې استوګنه وه زما د شور و شر سره (9)

او بیا د انوارالحق مرحوم دغه لاندینے شرارت انځورول یې څومره په حقیقت پسندۍ دلالت کوي چې وایي:

را چې غلو هوټل ته زۀ کمرې ته تېرېدلمه
بېرته یې ورو ورو په جمع زړۀ ننوتلمه

ناڅاپه یو غپ شو له پنډې یې اونیولمه
خیال مې وو د اوښ په شا پسې ځنګه اوخوړلمه

درې څته هوټل دے په دې ځائې کښې د سپي نوم نه ؤ
دا د مېږ دلاندې ځنګه ما وته معلوم نۀ ؤ

شا ته چې مې اوکتل د مېږ لاندې اور ؤ پټ
څۀ چې په چپیا کښې دا پیکر د شور و شر ؤ پټ

پښې یې ښکارېدلې لا زما ځینې یې سر ؤ پټ
لا په غورېدو ؤ چې زما نه یې نظر ؤ پټ

بیا چې را بهر شو لا یې جوړه تماشا کړله
ما ورته بد بد غوندې کتل او دۀ خندا کړله (10)

هسې خو په دغه سفرنامه کښې د همسفرو نه علاوه د افغانستان د صدر اعظم په افغانستان کښې د پاکستان د سفیر په حېث د سردار شاه ولي خان، د سردار عبدالرب نشتر، د هندوستان د رېډیو باني احمد شاه بخاري او په

اديبانو کښې د وزير محمد ګل خان، صديق الله رښتين، قيام الدين خادم، ګل باچا الفت، عبدالرؤف بېنوا، سيد کمال، او بيا د خوشحال خان خټك، رحمان بابا، سيد جمال الدين افغاني، غازي امان الله خان او نورو شخصيتونو ذکر شوے دے، ولې د رښتين صاحب او خادم صاحب د علم او پوهې بار بار اعتراف شوے دے. خصوصاً د رښتين صاحب د پښتونولۍ او علميت په حقله حمزه بابا د رښتين صاحب په نامه په يو خط کښې اعتراف کړے ؤ. په دغه خط کښې د دې سفرنامې په حقله هم خبرې شوې دي. تاسو يې هم ولولئ:

خوږه وروره رښتينه! قلم دې نور هم تېز شه

ستا ليك را ورسېد، د يو سنجيده او په کار سترې اديب خيالات په کښې ځلېدونکي ښکارېدل. وروره! مونږ بې لاسو پښو يو، ستاسو د ترقۍ او کاميابۍ دعا کوو. زمونږ په ځلميو کښې هم ستاسو له برکته د ژوند آثار ښکاره شوي دي. اوس په خوبولو ځېرو کښې د نوې غزنې اثار ښکاري، د محکومو پښتنو ځلمي ستاسو سره همدردي لري، د پښتون په وحدت او مرکزيت کښې درسره ملګري دي. کاروان تګ ته تيار دے، خو مشر غواړي. زما اشعار به څۀ وي چې تۀ يې د اورېدو خواهش کوې. زما يوه د کابل سفرنامه وه، هغه هم سي آئي ډي چاپ کېدلو ته پرې نه ښوده، زما په منظومه سفرنامه کښې ستا په حقله هم څۀ شته، عرض کوم:

بحث چې په (ي) وو لر او بر ته يې ما خيال وکړو
يو محمد نور او بل رښتين پکښې کمال وکړو

کله به خادم په دعوه خپله استدلال وکړو
کله پکتياني به په بل اړخ کښې جنجال وکړو

کله به الفت په اختلاف کښې مځکړے شو
ولونه بې يې دواړه سره يو کړۀ جوړ به پړے شو

هسې خو نږدې د هرې ورځې په روئيداد کښې ستا ذکر دے، خو يو شعر په کښې دا دے:

مـــا چـــې د خـــادم او د رښـــتین علـــم تـــه پـــام وکـــړ
زړهٔ مـــې د پښـــتون و پـــاکې خـــاورې تـــه ســـلام وکـــړ

کوم وخت چې مونږ د کابل نه را ووتو:

مـــونږ ســـره تـــر دې لکـــه د ســـوري لګېـــدلے ؤ
کـــوز شـــو بګرامـــۍ کښـــې چـــې رښـــتین زمـــونږ ملګـــرے ؤ

خـــدائیګو پـــه پالنـــه کښـــې زمـــونږه ســـتړے شـــوے ؤ
دے پـــه حوصـــله کښـــې د فـــولادو تلـــه پـــړے ؤ

دهٔ پـــه ډېـــر اخـــلاص د رخصـــتۍ معانقـــه وکـــړه
مـــونږ یـــې د کـــړاؤ او د پـــالنې شـــکریه وکـــړه

په اخیر کښې به دا ووایم چې زهٔ ستاسو د کامیابۍ دپاره دعا کوم.

امیر حمزه شینوارے (**1327**ش) (**11**)

د خـادم او رښـتین صـاحب د علمیـت نـه عـلاوه د عبـدالرؤف بېنـوا د فصـاحت او پـه خپلـو ملګـرو کښـې د مولانـا عبـدالقادر، سـید رسـول رسـا او عبـدالخالق خلیـق د فصـاحت سـره سـره د انوارالحـق د لغـت پېژنـدنې ذکـر هـم پـه دغـه سـفرنامه کښې شته.

ثـــومره وه فصـــیحه د رښـــتین او بېنـــوا ژبـــه
بیـــا مقابلـــه کښـــې د خلیـــق او مولانـــا ژبـــه

کمـــه د بیـــاتۍ نـــه پکښـــې نـــهٔ وه هـــم زمـــا ژبـــه
تـــوره وه پـــه شـــرنګ کښـــې د الفـــاظو د رســـا ژبـــه

کـــوم وخـــت چـــې انـــور بـــه لغتـــي ژبـــه برڅېـــره کـــړه
مـــونږ نـــه سلســـله بـــه یـــې د شـــوي تحقیـــق هېـــره کـــړه (**12**)

معلومـه شـوه چـې د دې سفر د ټولـو نـه غـټ هـدف د پښـتو پـه رسـم الخـط خبـرې کـول ؤ. پـه دغـه سلسـله کښـې وړومبـۍ غونـډه د اګسـت پـه اتویشـتمه نېټـه او دویمـه

غونډه د اګست په یو دېرشمه نېټه شوې وه. په دغو دوؤ علمي او ادبي غونډو کښې د رسم الخط په هکله فیصله وشوه چې د لرې او برې پښتونخوا دپاره به دغه مشترکه املا وي، د دغو غونډو علمي بحثونه حمزه بابا په خپله سفرنامه کښې انځور کړۀ، وړاندې مونږ ووې چې حمزه بابا د ځینو عالمانو د علمیت اعتراف کړے دے، خو ولې په دغه علمي بحثونو کښې حمزه بابا هم ښۀ ګټور بحثونه کړي دي. چې وړه شان اشاره خو ورته بابا په دغه مصرعه کښې کړې ده چې:

ع: کمه د بیاتي نه په کښې نه وه هم زما ژبه

ولې د حمزه بابا په دغه بحثونو کښې د علمیت اندازه د م-ج-سیال د دې خبرو نه ښۀ کیږي چې وایي:

"ما پخپله حمزه صاحب لومړے وار په 1948ء کال په کابل کښې اولید چې د پېښور نور څو تنه ادیبان لیکوال او شاعران هم ورسره وو. او د افغانستان د خپلواکۍ په جشن کښې د ګډون دپاره د پښتو ټولنې رابللے ؤ. د هغه وخت اهمې خبرې د پښتو رسم الخط په شاه خوا کېدلې او حمزه صاحب به په کښې خپل نظر او رائې ښکاره کوله او د پښتو ادب، پښتونوالي ادب او شاعرۍ په باب به په مختلفو مجلسونو کښې حمزه صاحب ډېرې ښې ګټورې او مؤثرې وېناوې کولې چې اورېدونکو به په خاصه دلچسپۍ اورېدلې او د هغه ځائې په ادبي مجالسو کښې به ئې ډېره ښه اغېزه کوله. (13)

د دغه سفر په دوران کښې حمزه بابا د حالاتو او پېښو ښه ژوره مشاهده کړې ده. کله چې یو کار د پښتنو د دود، دستور تضاد شوے دے، په هغې یې تنقید کړے دے او په خپله سفرنامه کښې یې ورته ګوته نیولې ده. په دغه سلسله کښې په مغربي تهذیب او تمدن هم ښۀ انتقادونه شوي دي. او کوم کار چې پښتنو هم د مغربي دود، دستور مطابق کړے دے، د هغې هم غندنه شوې ده، دې نه علاوه په دغه سفرنامه کښې حمزه بابا ښه په کلکه د خپل قامیت مرسته کړې ده. د جشن په ورځ 24 اګست 1948ء د یوې غونډې حالات چې انځوروي نو د خپل پښتني لباس تائید او د انګریزي لباس رد داسې کوي:

راغـے پـه دې وخـت کښـې يـو افسـر پـه مـونږ ګـزر وکـړو
تېـر شـو پـه همـه وو بيـا پـه مـا يـې کلـك نظـر وکـړو

لاس يـې زمـا مـټ تـه کړلـو بيـا يـې شـور و شـر وکـړو
سـترګو يـې بـاران لـه ډېـره قهـره د شـرر وکـړو

د ے قبـايلي او پـه خېمـه د شـهزادګانو کښـې
کـار د عـامي ځـۀ د ے پـه دې غونـډه د خاصـانو کښـې

ګـرم نـۀ ؤ افسـر ځګـه پګـړۍ چـې وه پـه سـر زمـا
وه خـو د خليـق هـم خـو پـه ځـټ کښـې ؤ څـادر زمـا

کـوټ ؤ خـو افسـوس چـې بـې پتلونـه ؤ دوبـر زمـا
برېـت وو خـو افسـوس نـۀ وو پـه ډول د مـچ وزر زمـا

خـلاص يـې لـه هغـۀ کـړم پـه رښـتين د رب کـرم اوسـه
د ے چـې تخيـل يـې هـم دا هسـې جـام د جـم اوسـه (14)

دې نـه عـلاوه پـه يـوه موقـع د ولاړې پـه ډوډۍ بابـا تنقيـد کـړ ے د ے او پـه سـفرنامه کښـې يـې ذکـر کـړ ے د ے، د افغانسـتان پـه کـالجونو کښـې د فرانسيسـي، انګرېـزي، عربـي او نـورو ژبـو پـه تـدريس او بيـا د فارسـۍ پـه لازمـي کېـدو او پښـتو تـه پـه عـدم توجـه حمزه بابا د ناخوښۍ اظهار کړ ے د ے.

د املا پـه حقلـه د مشـترکه فيصـلو نـه پـس د ټولـو پښـتنو د يـووالي پـه حقلـه يـې ليکلي دي:

يـو چـې د ے پښـتون نـو رسـم الخـط دې جـدا ولـې وي
روح د يـو مضـمون کښـې اخـتلاف د معنـا ولـې وي

بـل بـه پـه يـو لار کـاخو زمـان دې خطـا ولـې وي
ژبـه چـې يـوه ده مخالفـه وينـا ولـې وي

هرڅــو کــه محــل يـــې د وقـــوع ســـره جـــدا لـــري
بيــا هــم اشــتراك پــه مــرګ او ژونــد کښــې پښــتونخوا لــري (15)

پـه دغـه سـفرنامه کښـې نـورې بـې شـمېره ښـکلاګانې دي، خـو پـوره تسـکين هلـه حاصـلېږي چـې دغـه سـفرنامه پـوره ولوسـتے شـي، پـه دغـه مختصـره تبصـره کښـې مـا پـوره کوشـش وکـړو چـې د لوسـتونکو د ذهنـي او روحـاني تسـکين لپـاره زيـات نـه زيـات مثالونـه د سـفرنامې نـه پـېش کـړم. څـومره چـې ممکنـه وه مـا ځـائ پـه ځـائ ځـۀ بندونـه د مـوقعې او محـل مطـابق پـېش کـړل چـې لوسـتونکو تـه يـو خـو د حمـزه بابـا د شـاعرانه کمـال او اسـتاذۍ انـدازه وشـي او بـل د دوئ حقيقـت پسـندي، ژور فکـر او مشـاهده مخـې تـه راشـي. د دې سـفرنامې پـه واسطه د حمـزه بابـا پـه فلسـفيانه تفکـر، او د قاميـت د شـديد احسـاس انـدازه هـم وشـوه، پـه سـفر کښـې د شـريکو کسـانو پـه علميـت، عـادتونو او کيفيتونـو هـم رڼـا اچـولے شـوې ده او د افغانسـتان د اديبـانو د علمـي استعداد نه علاوه د هغوئې په مېلمه پالنه هم خبرې شوې دي.

هرڅـو کـه پـه نظـم کښـې ليکـونکے ځينـې مجبـورۍ هـم لـري، د شـاعرانه تېکنيـك دپـاره کلـه کلـه مبالغـه، رمـز، اشـاره او د تخيـل پـرواز هـم د ليکـونکي پـه ذهـن کښـې پـه چورلـك وي، کـه څـوك د رښـتينو پېښـو عکاسـي کـوي نـو لازمـي بـه تـرې دغـه شـاعرانه خـوبۍ پـاتې کيـږي. يعنـي د شعريت او حقـائقو پـه يـو ځـائ ځـايول ډېـر مشـکل دے، ظـاهره ده چـې سـفرنامه پـه حقـائقو ولاړه وي، ليکـونکے پـه هـر صـورت حقيقـت پسـند وي، نـو معلومـه شـوه چـې پـه سـفرنامه کښـې کـه هغـه پـه منثـور شـکل کښـې وي نـو د حقـائقو انځـور ګـري کېـدے شـي ولـې کـۀ سـفرنامه پـه منظـوم شـکل کښـې وي او بيـا پـه هغـې کښـې د ټـول شـاعرانه خوبيـو هـم خيـال سـاتلے شـوے وي، نو د حقائقو د مجروح کېدو احتمال ضرور کېدے شي.

حمـزه بابـا شـاعرانه خـوبۍ او حقـائق دواړه پـه دغـه سـفرنامه کښـې ځـائې کـړي دي. چـې مخکښـې مثالونـه ستاسـو لـه نظـره تېـر شـول، د دغـه سـفرنامې پـه حقلـه هـم دغـه وينـا کېـدے شـي چـې پـه لوسـتو يـې لوسـتونکے خپـل ځـان د سـفر ملګـرے ګڼـي، ګويـا پـه خپلـه د کابـل سـيل او د حـالاتو مشـاهده کـوي. خپلـه دغـه تبصـره بـه د حمـزه بابـا د دغـه سـفرنامې پـه يـو بنـد ختمـه کـړم چـې د کابـل د پښـتو ټـولنې شـکريه يې ادا کړې ده:

څومره د پښتو ټولنې دا په مونږ احسان کړے
بیا د دې په هورته حکومت افغانستان کړے

نۀ یواځې دا په مونږه دا یې په افغان کړے
بیا یې د سرحد په هر پښتون باندې ځان کړے

❁❁❁

# حوالې

(1) زۀ او حمزه، مؤلف عبدالرحمٰن لوګے کاکاخېل، **1979**ء مخ **45**.
(2) "رهبر" مردان، **15** اپرېل **1957**ء مخ **9**.
(3) د حمـزه یـاد، د ز، هــ، مقاله، پښـتـو ټولنـه کابـل، **1344**هــ (**1987**ء، مــخ **278**.
(4) "رهبر" مردان، **15** اپرېل **1957**ء مخ ۹.
(5) زۀ او حمزه، مؤلف عبدالرحمٰن لوګے کاکاخېل، **1979**ء مخ **142**.
(6) "رهبر" مردان، **15** اپرېل **1957**ء مخ ۹.
(7) "رهبر" مردان، **15** اپرېل **1957**ء مخ **10**.
(8) "رهبر" مردان، **15** اپرېل **1957**ء مخ **9**.
(9) "رهبر" مردان، **22** اپرېل **1957**ء مخ **7**.
(10) "رهبر" مردان، **8** جون، **1957**ء مخ **19**.
(11) ادبــي لیکونــه، ټولــوونکے، پوهانــد صــدیق الله رښــتین، **1361** هــ ش، مخ **31**.
(12) "رهبر" مردان، **15** مئ **1957**ء مخ **16**.
(13) زۀ او حمزه، مؤلف عبدالرحمٰن لوګے کاکاخېل، **1979**ء مخ **53**.
(14) "رهبر" مردان، **22** اپرېل **1957**ء مخ **7**.
(15) "رهبر" مردان، **15** مئ **1957**ء مخ **16**.
(16) "رهبر" مردان، **29** جون **1957**ء مخ **17**.